مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد یوسف صابر ساپی

۲۰۲۱/۱۲/۳۰

# انـجـړ وضـعـیت

اوس نه یواځې زموږ هیواد، بلکې د سیمې او نړۍ نور دولتونه هم د افغانستان په اړه، په یوعجیب او غریب وضعیت کې واقع شوي دي. د طالبانو له نظره، وطن ازاد شوي، کفري نړۍ ورڅخه ماته خوړلې، ایډیال اسلامي نظام منځته راغلی، هر څه ښه کیږي، وطن به ګل-ګلزار شي... د طالبانو د دښمنانو له نظره، په ټولو چارو کې د پاکستان لاس بر دی، ترهګري ده، فاشیزم دی، د بشر حقوق، د ښځو ازادي ګاڼې پایمال دي، د تاریکو پیړیو زورواکي ده....

رښتیا دا ده چې په هیواد کې دننه عام ولس او هیواد پاله روښانفکران، د بهرنیو پوځونو په ویستلو سره د زړه له کومې خوشحاله دي، اما د خپل وران وطن برخلیک او د خپل در په در ژوند دوام ته حق حیران دي، کټ مټ لکه ملنګ جان چې د خپل وخت تریخ حالات په یوه خوږه نغمه کې انځور کړي وو:

یو خواته جوړ ملي اختر دی، جوړې میلې دي بل خواته قام مې در په در دی، نارې سورې دي

دې ته وخاندم که دا بل ته وژړیږم، داسې ژوند ته حیرانیږم

اوس مهال د مخامخ باندینیو لاسوهنو سربیره، درې نورو پیریاني واقعیتونو، چې لیدل کیږي نه، اما وجود لري، د هیواد وضعه خورا پیچلې کړې ده:

.په هیواد کې د پردیو پټو جزُتامونو د فعالیتونو موجودیت، چې په هر لباس کې، هر چیرې حاضریدلی شي، کله د داعش، کله د القاعدې او کله د کوم بل ترهګر په بڼه ورانکاري کوي. انګلیس- امریکا له دویمې نړیوالې جګړې را پدیخوا دا ډول قطعات لري، چې د نړۍ په هر ګوټ کې د عملیاتو سرته رسولو قابلیت لرونکي دي. په هندي کشمیر کې، په ملکي جامو کې د دا ډول پاکستاني جزُتامونو فعالیتونه ډیر ځله ثبت شوی، له کلونو راهیسې په افغانستان کې یې هم فعالیتونه محسوس دي. ددې جزُتامونو د فعالیتونو کشف او شنډول خورا ګران دي، اما ناممکنه نه دی. د کشف ځانګړې قطعې ته اړتیا شته.

.په حکومت کې دننه د حکومت په ضد د نفوذي اشخاصو او قوتونو، په اصطلاح د پنځم ستون موجودیت دی. د طالبانو د صفوفو د تصفیې کمیسون په خپله ددې واقعیت ښکارندوی دی. ددې کمیسیون فعالیت د حکومتي ضد قوت په خنثی کولو کې ښایي آغیزمن تمام شي. اما د تصفیې کمیسیون تر کچې لوړ اجنټانو پیژندنه ګران کار دی. صیهونیستي شیطانت آن د استادانو په استادانو کې د نفوذ قابلیت لري.

.پله بین، ابن الوقته، اپورتونست قشر، چې د څلورو لسیزو راپدې خوا په افغانستان کې واقعي واک یې په لاس کې دی. دا قشر په خورا لوړ مهارت سره د رهبري کړۍ څخه ځان داسې راتاووي، چې مشران نور هیواد، ولس او نړۍ یواځې د همدوی له نظره ګوري، ځکه نو مشران له عیني واقعیتونو څخه بشپړ لیرې پاتې کیږي او تصمیمونه یې هم نادرست راوځي. دا قشر حکومتي چارواکو ته، د واک په وخت کې تر ټولو سرسپرده ښکاري، اما واکمنان د سقوط په وخت کې لومړۍ ضربه د همدوي له خوا خوري. ددې قشر سره مبارزه ناممکنه ښکاري ځکه، چې پیژندل یې ډیر ګران دی. د پیژندلو یو غوره شاخص یې دادی، چې دا قشر غیر د خپلو شخصي ګټو څخه پرته نور هیڅ ډول مقدسات نه لري.

د هیواد اوسنی وضعه د پتنګ ( ګوډیپران) د انجړشوو تارونو ته ورته ده، چې د ډیرو دننیو او بهرنیو عواملو تر آغیز لاندې رامنځته شوې ده. د افغانستان اوسني وضعیت ته نه یواځې افغانان، بلکې د نړې نور ذیدخله دولتونه هم هیښ پاتې دي: یو څه ته خوشحاله، اما یو شمیر مسایلو څخه ژورې اندیښنې لري.

په سیمه کې اوس، د لوډیزو دولتونو، روسیې او چین ترمنځ جیو- ستراتیژیکو سیالیو په خپل ټول قوت سره زور اخیستی دی. دا سیالۍ د صنعتي ټولنو له طبعیت څخه منشأ اخلي. لکه د انسان ژوند، چې خوراک او څښاک ته اړتیا لري، د صنعت ژوند خامو موادو پورې تړلی دی. د سترو صنعتي دولتونو جیو- ستراتیژي اساساً د انرژي او نورو اومو توکو ترلاسه کولو سیاست دی. زموږ په سیمه کې د زبر ځواکونو د رقابتونو په لوبو کې نور سیمه ییز لوبغاړي- ایران، پاکستان، هند او ترکیه هم فعاله ونډه لري. دا لوبې په خپل ماهیت کې نوی استعماري مضمون لري. په داسې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

سترو نړیوالو لوبو کې، سیمه ییز چارواکي کله ناکله د خپلو لنډمهالو ګټو په هڅه، اوږدمهاله او پراخ بصیرت له لاسه ورکوي.

د متحده ایالاتو عجیبه وضعیت: متحده ایالات د کلونو راهیسې نړیوالې واکمنۍ ته هڅې لري او د خپلو اقتصادي او سیاسي مجبوریتونو له کبله، د نورو ولسونو پر خپلواکۍ او طبیعي شتمنیو خیټه اچوي. انګلیس- امریکا، په خپلو ښکاره او پټو جګړو سره، چې په کل کې پر ایروشیا باندې د واکمنۍ او په ځانګړې توګه د مرکزي آسیا او قفقاز او آن د سایبریا انرژۍ زیرمو ولکه کولو له پاره، افغانستان ته راغلي وو، بریالي نه شول، ناکامه ووتل، اما لوبه بایللې نه ګڼي، اوس په پټو او پیچلو ستراتیژیو او چالونو سره غواړي خپل واک په سیمه کې وساتي. امریکایي سیاسي او پوځي چاروکي هره ورځ د افغانستان په هکله ضد او نقیضه څرګندونې کوي. سره ددې چې، دا په خپله د امریکایي مشرانو د ژور فکري بیلوالي او انشعاب انعکاس دی، اما له ورایه څرګندیږي، چې امریکایان په افغاني جګړه کې په خپلې ماتې څومره خواشیني دي. لدې سره په بله خوا کې، د طالبانو په وجود کې د دوی د «وریښمو نوې لار ستراتیژي» په خپله عملي کیږي: په سیمه کې د نفتو ګازو په انتقال کې روسیي انحصار ماتیدو ته لاره هواریږي: د تاپي پروژې ، د ریل پټلي ... په واسطه، د افغانستان له لارې مرکزي آسیا او پاکستان سره په وصلیدو ښکاري، د طالباني نهضت تر آغیز لاندې، د مرکزي آسیا په هیوادونو کې د اسلامي څپو د خپریدو امکانات رامنځته کیږي، هغه څه چې امریکا یې له ډیره وخته په خوب و خیال کې ګوري، هغه څه چې د شورای نظار حکومت، د ناتو په پوځي حضور کې د امریکا لاس لاندې حکومت سرته رسولی ونشول.

د روسیې عجیبه وضعیت: له افغانستان څخه د امریکایي پوځونو په وتلو سره تر ټولو زیات روسیه خوشحاله ده او ددې له پاره باید د طالبانو لاسونو ته ټیټ شي. اما د مرکزي اسیا او قفقاز د انرژۍ منابعو پر انتقال باندې د روسیې انحصار ماتولو د هڅو په مقابل کې په خورا حساسیت او عصبانیت غبرګون ښکاره کوي، ځکه چې دا د سترو ګټو او سترو سیاستونو مسأله ده. روسي واکمنان له ډیرې زمانې راپدې خوا، د قفقاز، بالتیک او مرکزي آسیا سیمې، د افغانستان په شمول د خپل د نفوذ ساحې ګڼي، نوموړې سیمې د روسانو د پراختیا غوښتنې (Expansionism) د لوبې دایمي ډګرونه دي او په دې لوبه کې همیشنۍ بوختیا، د هغوی د علاقې وړ سرګرمي (Hobby) ده. همدغه روسي پراختیا غوښتنه او جیو ستراتیژي پر افغانستان باندې د شوروي تیري غوره محرک او په هیواد کې د لس کلنې جګړې اصلي علت ؤ. روسیه تر ننه پورې افغانستان د خپل نفوذ ساحه ګڼي او څارګري فعالیتونه یې په افغانستان کې، د خپلې دننۍ استخباراتي شبکې له لارې، په ټول قوت سره دوام لري، همدا په هیواد کې د وضعې د پیچلتیا د غوره لاملونو څخه یو لامل دی. د روسیې استخباراتي شبکه د پنجشیر د « ملي مقاومت » هسته جوړوي (سره ددې چې په رسمي توګه په متحده ایالاتو کې رجستر شو). همدغه زموږ د هیواد او سیمې د وضعیت تناقض (Paradox) تشکیلوي. د (سپوتنیک افغانستان) نشراتي ارګان د همدغې شبکې په لاس کې ده او هدفمنده خپرونې کوي.

چین هم د افغانستان وضعیت ته حق حیران پاتې دی: د افغانستان څخه د امریکایي پوځونو په شړلو سره، په زړه کې ګوري ماتوي، د افغانستان معدنیاتو ته وږی- تږی ناست دی او اوس یې ټول په ورغوي کې ښکاري، اما د یغورو مسلمانانو په منځ کې د مذهبي-طالباني څپو له توپان څخه ښکاره بیره لري. د انګلیس- امریکا په شیطاني سیاست کې، په مذهبي نیشو کې تر غوړو ډوبو طالبانو او د چین لامذهبه کمونیزم ترمنځ د نښتلو له پاره د انګیزو رامنځته کول همیشه شونې ده. د تاجکستان، ایران او پآکستان سره د تازه راپیښه شوو سرحدي شخړو په مقدمه، چین هم په افغانستان کې د «پیشو سره په جوال کې » لویدلی شي.

د پاکستان عجیب وضعیت : پاکستان دولت په سیمه کې د امریکا- انګلیس اجرائیوي ادارې په توګه، د مذهبي تنظیمونو له منځه د طالبانو په راپورته کولو او هم د امریکا سره یو ځای د طالبانو په ځپلو کې څرګند رول درلود. لدې سره، د پاکستان دولت او پوځ د یوې اجیرې موسسې په څیر، په افغانستان کې د امریکا د فرمایشاتو د عملي کولو سربیره، خپل ځانګړې ستراتیژیکي موخې هم تعقیب کړي، چې په هیواد کې د موجوده پیچلې وضعې منځته راتګ باعث شوي دي. د پاکستان اوږد مهاله هدفونه، په افغانستان او پاکستان کې د حکومتونو په تبدیلیدو سره بدلون نه مومي او په خپل ځای پاتې کیږي. هغه دا دي، چې پاکستان غواړي:

§د ډیورنډ کرښې ها غاړې سیمه د همیش له پاره د خپلې خاورې برخه وګرځوي،
§د افغانستان او لرې پښتونخوا له اوبو څخه په خپله خوښه ګټه پورته کړي،
§د هند سره د افغانستان اړیکي په خپل واک کې وساتي،
§د افغانستان نیشه یي او نورو توکو سوداګري کې ازاد لاس ولري.

د پآکستان دولت او پوځ دا ځل واک ته د طالبانو راتګ سره، په ظاهر کې خوښي څرګندوي، د سیاست په نړیوال نندارتون کې یې په ملاتړ مندې رامنډې وهي، د هند سره د طالبانو عقیدوي اختلافونو له کبله خوشحاله دي، اما د طالبانو په ځپلو او زورولو کې د امریکا سره د همدستي له کبله خورا اندیښمن دي، په افغانستان کې د یو پیاوړي مرکزي دولت رامنځته کیدو بشپړ مخالف دی، په افغانستان کې د تیرو څلورو لسیزو د ټولو نظامونو په ړنګیدو کې د پاکستان رول مشهود دی.

پاکستاني چاروکي اوس هم، لکه د څلورو لسیزو جګړو په اوږدو کې، د جګړې دواړو خواوو ته د جګړو امکانات په لاس ورکوي، د ISI پټ قطعات د MI6 قطعاتو سره، اوږه په اوږه په پټو جګړو بوخت دي، سره ددې چې په


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ښکاره يواځي د طالبانو پلوي کوي، اما هم طالبانو ته مشورې ورکوي او هم د طالبانو مخالف تنظيمي مشران په پاکستان کې ساتي.
د ايراني دولت دوه لوری سياست: د ايران اوسنی رسمي سياست د متحده ايالاتو سره دښمني او تخاصم دی، له افغانستان څخه د امريکايي پوځونو په وتلو سره منطقاً خوښ او له همدې کبله د طالبانو منندوی دي. اما د ايران په مذهبي مشرۍ کې يهوديت عيناً لکه د متحده ايالاتو په مشرۍ کې نفوذ لري، له نژدې ځارني څخه نه پيژندل کيږي، چې دا ايران دی او که اسرائيل. له ډيرې زمانې راپديخوا، ايراني استخباراتي ادارو په افغانستان کې درې ستراتيژيک اهداف تعقيب کړي دي:

- د افغانستان ارزانه اوبو ترلاسه کولو له پاره يې د جګړې اور ته پکی وهلی دی،
- د شعيه مذهب د ملاتړ په نامه يې، شعيه وسله والي ډلې تنظيم، تجهيز او فعالي کړي دي،
- د خپل جعلي ناسيوناليزم په بنسټ يې په افغانستان کې ژبني او قومي دښمنيو ته لمن وهلې ده.

ايراني چارواکي، په خپل بهرني سياست کې د روسي دولت همکار او د شورای نظار او شعيه ډلو پخوانی يار او مددګار دی.
پدې ډول، د امريکا- انګليس د لاسوهنو سربيره، د ايران بربنډو استخباراتي جګړو؛ په افغاني کشاله کې د پاکستان فعال حضور؛ د نفوذ ساحې ګټلو له پاره د روسيې د ځارګرۍ فعاليتونو؛ د پاکستان سره په دښمنۍ کې د هند نيابتي- استخباراتي چالونو ؛ د چين اقتصادي- استخباراتي پروژو؛ د نيشه يي توکو د نړيوالي سوداګري شبکې جنايتونو؛ د وسلو او پوځي صنعت د پيداوارو نړيوالي راکړې- ورکړې ... د افغانستان سياسي او پوځي وضعيت د پتنګ (ګوډيپران) د انجړ شوو تارونو په څير داسي انجړ او غوټه غوټه کړی، چې خلاصول يې اوس ګران شوي دي.
اما د حق په رڼا کې، که د زړه د آيينې په صفا کې، د ټولو ستونزو حل وکتل شي، نو ليدل کيږي، چې ددې ټولو غوټو د هوارولو له پاره لومړی شرط - د سياسي ارادې موجوديت دی. سياسي ارادې څخه مقصد د غير جنګي لارو تعقيب دی. د دوحې تړون سره سم، د طالبانو او د وخت حکومت ترمنځ د سولې په خبرو کې اصلي مشکل، چې د مذاکراتو د ناکامي باعث شو، دا ؤ چې د حکومت جنګي واک لرونکو په هيڅ صورت نه غوښتل له طالبانو سره جوړ جاړی وکړي او طالبان هم د خپل اسلامي امارت په رامنځته کولو ټينګ ولاړ وو. نن هم هماغه ډله د جنګ او مقاومت نغاري ډمبوي. اما هر څومره چې هغوی د جنګ ناري وهي، هغومره عامه ذهنيت په خپل ضد راپاروي. عامه ذهنيت د جګړې د دوام په خوا نه دی.
د هيواد دننيو مشکلاتو پر حل باندې تمرکز په خپله د بهرنيو ستونزو حل ته لاره هواروي. کله چې د يو ژوندي وجود ايمون، دفاعي سيستم جوړ او پياوړی شي، د مکروبونو تخريبي اثرات په خپله له منځه ځي. ټولنه هم د يو ژوندی ارګانيزم په شکل عمل کوي، ځکه چې له ژونديو ارګانيزمو څخه جوړه ده. په بهرنيو اړيکو کې که نورو دولتونو ته د سوال لاس اوږد شي، نو هغوی هم منطقاً لکه د سوالګر او غلام سره، چې څرنګه چلند ښايي، همغسي برخورد کوي او که په نړيوالو تعاملاتو کې د يو شريک او پارتنر په ډول ګډون وشي، نو نړيوال هم د خپلو ګټو په بنسټ د همکار او شريک په توګه چلند اختياروي.
د عام ولس او خپلواکه هيوادپاله روښانفکرانو په غاړه ده، چې د اوسني بحران څخه د هيواد د کښلو په موخه، د تخريبي فضا په ځای يوه جوړونکې فضا رامنځته کړي، د واکمنو او مخالفينو د هر ورانونکي اقدام مخالفت وکړي او د هر سازنده ګام سره هم ګامه شي او هماغسي چې د باندينيو عواملو له کبله د هيواد سياسی بهير څخه شړل شوي وو، ورو ورو بيرته د ټولنې سالمې ادارې له پاره، د هيواد په سياست کې فعاله برخه ترلاسه کړي.

محمد يوسف صابر ساپی ۲۹\ ۱۲\ ۲۰۲۱


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ